# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

احمدشاه وردگ

۲۵ اپریل ۲۰۱۲

## که باجوړ نه خوری نو بد مه پری وایه!

**دکوه قاف دیوان به زور وی دامنم درسره　　افغانه عشقه ترینه خپل جانان په زور راوړه**

په دی تول پوهیږو چی زموږ هیواد افغانستان دخپل وياړلی تاريخ له یوی ډیری خطرناکی اونازکی مرحلی څخه تیریږی. کله چی هیواد دافراطی تنظیمی جګړوپه اورکی سوزیده اوپه خلکو رڼا ورځ توره شپه ګرځیدلی وه او دهر هیوادوال سر، مال اوناموس له جدی ګواښونو سره مخ وو، نو دطالبانو په نامه یوه وسله واله ډله دکندهار په بولدک په ظاهره دیوی پوستی لخوا دبڅو دیرغمل نیولو دپيښی په عکس العمل کی رامنځ ته شوه (عینی شاهدان داخبره تاییدوی)اوپه لږه موده کی یی کندهار اوتول هیوادترخپلی ولکی لاندی راووست. اوددوی په اصطلاح دټوپکیانو واکمنی یی پای ته ورسوله اوداسلامی امارت اعلان یی وکړ.

دطالبانو د چټک پرمختګ لاملونه کیدای شی ډیر واوسی، ولی یو ډیر مهم اوټاکونکی عامل دولس کرکه اونفرت له افراطی تنظیمونواوددوی ترمنځ دواک لپاره دیوی بی پایه جګړی دوام و. دغه عامل(دخلکو خواک) ته له بده مرغه ډیر هیوادوال یا دشک په سترګوګوری اویا هم هغه بیخی له پامه غورځوی. ولی که دبشریت تاریخ ته ځیر شو نو داراته جوته کیږی چی هرهغه څوک چی په پخپلو خلکو تکیه کوی اوددوی په متو واکمنی کوی نو روښانه ده چی واکمنی یی هیڅوک نشی ګواښولی اودپايښت تضمین همدا ولس دی.

په هماغه وخت دهمدی اخوانی-وهابی-خادی تنظیمونو عربی انډیوالان(اسمامه اونور) چی "بحران الدين" دهغوی لپاره ۸۰۰۰ دتابعیت تذکری هم توضیع کړی وی سره له کورنیو اوماشومانو دطالبانو دواکمنی غاړی ته ورولویدی چی ترننه دهغی بیه تول ملت په ډیره ګران پیمانه ورکوی څکه طالب اوملا زموږسره تړلی دی.

دافغانستان مظلوم خلک چی دسولی اوبنی حکومت داری تږی و په توده غیږه دطالبانو څخه ملاتړ وکړ، دوی ته یی دوډی ورکړی اوخپل زامن یی ددوی سره ملګری کړل ترڅو هیواد وژغورل شی. هیوادوال خبر دی چی بیا پیښی په کومه خوا پرمخ لاړی اونتیجه یی همدا شوه چی هیواد دیوه بل ښکیلاک په منګلو کی پریوت چی دالس کاله زموږ په تولو مادی اومعنوی شتمنیو واکمن دی.

په جهادی کړیو کی ځینو پوهواودملی مفکورودرلودونکو هیوادوالو ډیر زیاروایست ترڅوامریکا اونړیواله ټولنه دی ته وهڅوی چی دطالبانو سره ګډ کاروکړی اوپری نږدی چی دوی داخوانیانو اووهابیانو منګلو ته ولویږی . ولی امریکا دخپل نیواک ګر غرور له مخی دی خبری ته ارزښت ورنه کړ اویا یی قصدا همداسی غوښتل اوپه لوی لاس یی دڅوارلسو سوو کلنو ملا دوهابیت لمنی ته ورټیل واهه چی په پایله کی داخوانیانو اووهابیانو بانکر(بن لادن) دطالبانو په یوه ستر تمویل کوونکی اوددوی دپالیسیو په جوړونکی بدل شو.

امریکا اسامه غوښت اوطالبانو دهغه دورکولو څخه انکاروکړ؟ آیا دطالبانو دغه حرکت یو پرځای کارو؟ آیا افغانانو پخوا هم خپل میلمه؟ اویا هغه څوک چی ددوی سره یی دهیواد په ژغورلو کی مرسته کړی دهغه دښمنانو ته وسپاری؟ په دهکله غواړم یوازی دوو مثالونو ته اشاره وکړم: یو کله چی دوهمه نړیواله جګړه روانه وه نوډیروجرمن کارپوهانو په هیواد کی دننه ترسره کوله اودوخت حکومت دشوروی او انګلیس ترډیر فشارلاندی و چی جرمنان دوی ته وسپاری ولی افغانانو دخپل تاریخ اواصولو په رڼا کی دکلکو تضمیناتو تراخیستلو وروسته دغه جرمنان خپل هیواد ته پرته له کومو ستونزو،واستول. یوه بله بېلګه چی کله دفارس امپراطوری دقادیسیی دجګړی په پایله کی دمسلمانانو په لاسو ړنګه شوه نودفارس امپراطور دریم یزد ګرد کابل شاهانو ته پناه راوړه او افغانانو دهغه څخه په ډیره میړانه اوایمانداری ساتنه وکړه اودعربو ګواښونو اوتمه کولو ته یی سر ټیټ نکړ اودریم یزدګرد یی په ډیره لوړه بیه وساته. دا موضوع دطالبانواویانورو څخه دملاتړ اویا ددوی په کړونو دپردی اچولولپاره نه لیکم ولی دا یو افغانی اصل دی چی تراوسه ندی مات شوی اونه به هم په راتلونکی کی مات شی، زه پوره باورلرم که دطالبانو پرځای هر افغان وی دغه ذلت اوسرټیټی ته به یی غاړه نه وه ایښی . دغه اصل ته ټول افغانان پرته له توکمیز توپیره، درناوی کوی اوپه خپلو وینو دهغه پالنه کوی.

دامریکا امپریالیزم دغه سناریو له پخوا جوړه کړی وه اوڅرنګه چی دوی غوښتل پیښی یی په هماغه خوا واړولی چی دوی یی هیله درلوده او همداسی وشول چی په نتیجه کی یی زمونږ هیواد یوځل بیا دکبرجنو وینو زبیښوونکو په منګلو کی راګیر شو. دوی په لوی لاس دهیواد دښمنان راوستل ،چاغ یی کړل، وزارتونه، جنرالی اونور القاب یی ورته ورکړل اوله ځانه سره یی په دغه غمیزه کی مل کړل.

تردوو دریوکلنو پوری د طالبان درک نه واو نه کومه جګړه وه، اوخلکو دهیواد بیا روغونی ته ملاوی ټینګی تړلی وی، ولی هیواد وال دپردی ترشا په معاملو اوپریکړو نه وو خبر، اوهیله یی درلوده چی هرڅه به سم شی اوپه هیواد کی به یوځل بیا دقانون واکمنی ټینګه شی اودخلکو په پرهارونو به ملهم کینبوود شی. ولی داسی ونه شول! هیواد یو ځل بیا دناآرامیو سره مخ شو، دطالبانو په نامه وسله والی ډلی راپیدا شوی اوپه کلو ، لویو لارو اوبانډو مسلط شول.

دافغانان دخپل فطرت اوافغانی شهامت له مخی دهرډول یرغل اونیواک مخالف دی اوترپایه به ددی هیواد بچیان دخپلو سرونو په بیه دهیواد څخه ساتنه وکړی ولی داځل دښمن ډیر مکار دی، کوم چی دخپلو امکاناتو اوتکنالوژی په مرسته دجګړی قوانین جوړوی اوپه دواړو خوا وو کی خپل نفوذ اواغیزه ساتی(هیوادوال هره ورځ دغه خبره په خپلوسترګو وینی-هغه طالبان چی په رښتیا دامریکایانو سره جګړه کوی وژل کیږی اوپر ځای غله اونوری ډلی ځواکمنی کیږی) چی همدی سیاست اومنافقت دځینو هیواد والوپه زړونو کی دشک اوتردید سبب شوی. درسنیو په حواله چی یوازی سی آی ای دری زره جنګی ملیشه لری اودهیواد په سراسر کی په خپلو ناوړو کړنو لګیا دی.

دهیواد یوه لیکوال عارف عباسی چی تر یوه حده دامریکایی نیواک مخالف هم ځان بولی؟ په خپله وروستی مقاله کی: (( آیا میتوان طالبان راناجیان افغانستان خطاب کرد؟)) چی په افغان –جرمن ویب پاڼه کی خپره شوی ده یوه لیکنه خپره کړی چی په ځینو برخو یی غواړم رڼا واچوم:

لومړی خو عباسی صاحب اوسنی نړی چی دواک په راس کی یی امپریالیزم دی گل گلزار معرفی کړی چی په چټکی سره دپرمختګنو اوسوکالی په لوری روانه ده اولیکلی یی دی چی که چیری کومه جګړه (خدا نخواسته)پیښه نشی نو لیری به نه وی چی دامپریالیزم په لاس جوړ شوی جنت به ټول په سترګو ووینو اوخوند به تری واخلی؟؟؟ دښاغلی عباسی څخه پوښتنه کیږی چی آیا نن چی کوم ناتارچی دافریقا دشمال څخه بیا زمونږ ترکوره دهمدی خونړی امپریالیزم لخوا روان دی او هره ورځ په سلګونو اوزرګونو انسانان دمرګ خولی ته ورکوی، تاسو دغه جګړه نه بولی؟ آیا ستاسو په خیالی نړی کی هرڅه په زوراوناروا نه ترسره کیږی؟ آیا په ننی نړی کی دزیرمو اوګټو ویش دکوم انسانی فورمول په اساس ترسره کیږی اویا هم د بی ۵۲ اویا ډرون پواسطه ترسره کیږی؟ آیا اوسنی نړیوال نظام دبشر په تاریخ کی ترټولو ډیر ناعادلانه اوله توپیر څخه ډک نه دی؟

ښاغلی عباسی! ستاسو تکنالوژی اوتمدن نن دشیطان په لاس کی دی اوشیطان به هرومرو دځمکی په مخ دوزخ جوړی(لکه چی جوړکړی یی دی) اوانسانان به وراچوی. داسلام دمبین دین په هکله ستاسو نظریات درست دی چی اسلام دتحمل اویوبل ته ددرناوی دین دی، ولی همدا داوسنی نړیوال نظام واکمنان دی چی دادری سوه کاله کیږی چی ریښتینی اسلام یی له مونږ څخه پټ کړی او په ځای یی دالازهر اوآل سعود په لاس جوشوی دنفرت اووژنی دین مونږ ته داسلام په نامه وړاندی کړی اوکله چی زمونږ اولادونه دڅومیاشتو لپاره پاکستان ته لاړی اوپه مدرسو کی زده کړی وکړی نو لومړی کاریی دخپل پلار اوموسره دجهاد اعلانول دی اوسمدلاسه عبدالرسول په عبدالرب بدل کړی. زمونږ تحمل اویوبل منل به زه یوازی په یوه پښتو لنډی کی درته خلاصه کړم کومه چی کلونه کلونه زمونږ په شونډو زمزمه کیږی او ډیر ښکلی یی لیکلی:

یارمی هندو زه مسلمان یم

دیاردپاره درمسال جاروکومه

نوکه چیری یوافغان چمتووی چی دخپلی مینی اومحبت لپاره درمسال جارو کړی نو داداسلام هغه ښکلی خراسانی تعبیر دی چی دخپلواکی اومینی په دغه ټاټوبی له نسلونه اونسلونه دهغه ساتنه اوپالنه شوی او چیرته چی (جنګ هفتاد ودو ملت) هیڅ ځای نلری.

ولی داټولی ناخوالی دچا دلاسه؟ آیا په دی غمیزه کی دافغانانو ونده ډیره ده اوکه دبهرنیو یرغلګرو؟ زما په آند نړیوال امپریالیزم په لوی لاس دافغانانو دوطن پالنی اودسواد اوپوهی دکچی دټیټوالی څخه دخپلو موخو لپاره ګټه پورته کوی اودجګړی تنور تود ساتی.

هوکی عباسی صاحب ! داچی زمونږ دجهاد اوملی مقاومت سنګر دهمدی لیوانو په ولکه کی دی نو آیا لاس ترزنی کښینو اوپریږدو چی هرڅه مو راڅخه لوټ اوغلامان راڅخه جوړ کړی؟ آیا داشغالګرو په وړاندی کوم څه کول پکاردی اوکه نه؟ زه حاضریم چی تاسو ته ولیکم چی داټولی ناوړه کړنی (وژل-سیځل)هیڅ په هیوادمین افغان نشی ترسره کولای ، یوازی اویوازی دپردیو مزدوران داسی کړنی ترسره کوی کوم چی دهیواد دریښتینو بچیانو په لیکو کی پټ شوی. مونږ په خپلو سترګو وینو چی دمقاومت اوپاڅون شازلمی څرنګه او په څه ډول له منځه وړل کیږی اوځای یی ددوی ګمارلی نیسی. تاسو پوښتنه کړی چی آیا څوک حاضر دی چی پرته له وژلو اوسوزولو کومه کړنه راپه ګوته کړی چی دطالبانو په لاسو ترسره کیږی.

یوه خبره ډیره روښانه ده، کومه چی دطالبانو ترنامه لاندی ترسره کیږی او هغه دامریکا اوناټو دپرمختګ مخنیوی دی چی دهیوادبشپړ اشغال ته ونه رسیږی اودلوڅو لیبرالانو کرغیړن نظام دلته په دبه ودرول شی، دسرتیرو وینی یی تویی شی، دسودخورانو بانکونه تش شی اواردویی په روانی نارغیو مبتلاشی اوبالاخره دشرم اوننګ یوتورداغ

دبشر په تاریخ پریږدی. داویاړ دافغان میړنی ولس دی که څوک ورته طالب وایی اویا افغان. تاسو ښاغلی عباسی د طالبانو دقومی وژنی څخه یادونه کړی ده؟ ولی دالس کاله دپښتون قوم وژنه دلیبرالیزم اودموکراسی ترنامه لاندی نده روانه؟ آیا دجمعیت ،وحدت اوجنبش ملیشی چی امریکایی کماندو دریشی یی هم په ځان کی دی دپښتنو په کلیو اوبانډو کی په قومی وژنه ندی لګیا؟ اوداټول هم ناټواوامریکا په وسلو اوپیسو؟

تاسو دطالبانو ملاتړی په دریو کتګوریو ویشلی و: لومړی هغه کسان چی په قومی تعصب کی غرق دی نوځکه دطالبانو ملاتړ کوی. دوهمه ډله هغه کسان دی چی داوسنی نظام دغچ اخیستلو لپاره دهغوی ملاتړکوی اودریمه هغه ډله بولی چی اوسنی کړکیچ ستومانه کړی اوپه ناپوهی سره ددی سړی وژونکو څخه دژغورلو لپاره دطالبانو ملاتړکوی.

ولی یوه لویه اوټاکونکی ډله چی هغه بیچاره ولس دی ستاسو له پامه غورځیدلی. ولس نه داغواړی اونه هغه! ولی لاره تری ورکه ده او یوازی ټوپک اوسدری ورپاته ده اوداورته توپیر نه کوی چی څوک داجګړه مهندسی کوی اونه هم هیڅ باوجدانه لیکوال کومه طرحه اویا دخلاصون کومه نسخه دوی ته وړاندی کړی.

ددی ترڅنګ دامپریالیزم ګوډاګیان هم په څو ډلو ویشل شوی ترڅو خپل دبی ننګی ژوند ته دامریکا تربیرغ لاندی یو څوشیبی نورهم اوږدوالی ورکړی.

لومړی: ګوډاګی رژیم چی په غلامی کی یی هیڅ شک نشته اوټول په دی خبره متفق یوچی دنکټایی نه نیولی بیا دناموس تر پرتوړه دیانکیانو لخوا تمولیږی اودوی دتاریخ ترټولو منحوسی څیری دی.

دوهمه ډله هغه لیکوالان دی چی  په ښکاره داشغال ملاتړ کوی او امریکا په حقه بولی اوزمونږولس  ناخبره اوبی سواده بولی ، دوی لکه هغه ړانده چی پرمخونو یی پرده پرته وی اونوره نړی نه وینی  اودطالب ناوړه کړنی هره ورځ دهیوادوالو   مخ ته اچوی اوپه حقیقت کی دامپریالیزم کپرادوران دی.دوی په ښکاره دامریکا سخاوتمندی اودهغوی په لاسونو دجوړشویو پلونو، سړکونو اوښوونځیو یادونه کوی اوداخبره غواړی په خکلو کی خپره کړی چی ګواکی که امریکا نه وی نو دلته به دوزخ جوړشی( دااوسنی حالت جنت بولی) دغه خوران دبیلابیلو عواملو په وجه اویا هم له ډیری بی غیرتی په دی ندی توانیدلی چی امپریالیزم ته حلال خدمتی وکړی ولی خپل قلمونه یی ددوی په خدمت کی ورکړی.

دریمه ډله هغه کسان دی چی دمنافقو په ډول دامریکا په ناوړه کړونو هم معترف دی، دطالب بدی هم څرګندوی ، ځانونه روشنفکران اووطن دوستان هم بولی او ولس صبر اوتحمل ته دعوت کوی اودمنطق په ژبه ورته (نصیحت پدرانه) هم کوی ولی په حقیقت کی ددوی اوبه هم دامپریالیزم ژرندی ته ورلویږی . دریمه ډوله تردوهمه اودوهمه ترلومړی ډلی ډیره خطرناکه ده، ځکه همدا ناتوانه لیکوالان دی چی زمونږ هیوادوال په شک او تردید کی اچوی اوغواړی دمقاومت دغه بله شوی ډیوه مړه کړی.

که چیری څوک په ریښتیا په هیواد مین وی اوغواړی چی له نیواک څخه یی وژغوری نو ضروری خبره خوداده چی دمقاومت دملی کیدو په لاره کی هڅی وکړی اوقلم دخپلواکی لپاره وځرخوی.

دهیواد دآزادی سنګرونه چی په هرځوان ښکلی کیږی خدای یی دراولی، الله(ج) یی د جهاد قبول اونومونه یی دهمیشه دتاریخ په پاڼوکی په زرینو کرښو ولیکل شی.

په پای کی غواړم دحافظ صاحب دوه بیته دخپلی ادعا دثبوته په توګه عباسی صاحب(دیوه هیوادوال په توګه) اونورو هیوادوالو ته وړاندی کړم:

**صبحدم مرغ چمن با گل نوخاسته گفت          ناز کم کن که دراین باغ بسی چون توشگفت**

**گل بخـــندید که ازراست نرنجیم ولی          هیچ عاشــق سـخن سخت به معشوق  نگفت**

داچی زمونږپه مقدس جهاد کی امپریالیزم خپله تومنه اچوی اوهغه کوی چی هغه ته غیر انسانی اوبی رحمه پوښ ورواغوندی، داترلمرروښانه ده ولی :

که باجوړ نه خوری نو بد مه پری وایه!

په هیوادنی مینه اودرناوی

احمدشاه وردگ

کابل-افغانستان